# شریعت

ورځپانه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ١٣٧٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤٢١ ګڼه / چهار شنبه ٢٤ رمضان‌الکریم ١٤٤٥ هـ.ق / ١٥ حمل ١٤٠٣ هـ.ش / ٠٣ اپریل ٢٠٢٤ میلادي



## د بودجې له توشیح پرته، دولتي مامورینو ته د (وري) میاشتې معاشونه ورکول کیږي

مالیې وزارت په یوه خبر کې ویلي چې د امیرالمؤمنین حفظه الله د ځانګړې لارښوونې پر بنسټ به د بودجې تر تصویب مخکې، دولتي کارکوونکو ته د روان ۱۴۰۳ کال د وري میاشتې معاشونه ورکول شي.
په خبرپانه کې ورانډې راغلي چې دولتي کارکوونکو ته به د روژې مبارکې میاشتې او کوچني اختر د رارسېدو په مناسبت د روان ۱۴۰۳ مالي کال د وري میاشتې معاشونه ورکول شي.
مالیې وزارت زیاته کړې، چې د ۱۴۰۳ مالي کال د بودجې طرحه د اسلامي امارت مشرتابه ته استول شوې، خو تر اوسه تصویب شوې نه ده. د شته اصولو له مخې، د مالي کال پلان د مالیې وزارت له خوا چمتو شوی او د تصویب په موخه امیرالمؤمنین حفظه الله... ۳مخ

اوقات افطار و سحر به افق کابل

افطار: ٦:١٩
سحر: ٤:١١

# اسلامي امارت اقتصاد محوره افغانستان غواړي




د ریاست الوزرا اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د بېلابېلو هېوادونو سفیرانو او استازو ته چې د بهرنیو چارو وزارت په انګړ کې راټول شوي وو؛ وینا وکړه.
په دې مراسمو کې لومړی د ریاست الوزرا اداري مرستیال د بېلابېلو هېوادونو د سفارتونو مسوولینو، استازو، ډیپلوماتانو او د یوناما مسوولینو ته ښه راغلاست ووایه او د هغوی د راتګ د هرکلي ترڅنګ وویل: اسلامي امارت له ټولو هېوادونو سره د متقابل تعامل او درناوي په اساس د ښو اړیکو غوښتونکی دی.
مولوي عبدالسلام حنفي زیاته کړه، اسلامي امارت په غزه کې د صهیونیستانو بې رحمانه بریدونه او د فلسطین ملت تولوژنه ... ۳مخ

## د نیله باغ پروژې عملي چارې پیلېږي

د کرنې او ښار جوړولو وزارت سرپرست وزیر شیخ حمدالله نعماني په خپل کاري دفتر کې د چین هېواد د دولتي تصدۍ او کابل کې د چینایي پروژې له مسوول سره کتلي او د نیله باغ پروژې د عملي چارو پر پیل یې بحثونه کړي دي.
په دغه لیدنه کې د نیله باغ پروژې، چې چارې یې د چین لخوا په وړیا ډول پر مخ وړل کیږي؛ خبرې اترې وشوې.
د چین هېواد د تصدۍ او په کابل کې د نیله باغ پروژې مسوول وویل، چمتو دي چې د پروژې رغنیزې چارې پیل کړي او تمه لري چې په شاوخوا درې کالونو کې به یې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپاري.
د کرنې او ښار جوړولو وزارت سرپرست شیخ حمدالله نعماني، چینایي لوري ته ... ۳مخ




## امارت اسلامی به نشست مجمع جهانی جهان اسلام دعوت شده است



ضمیر کابلوف، نماینده ویژه روسیه در امور افغانستان به خبرگزاری دولتی این کشور گفته که از امارت اسلامی در نشست آینده مجمع جهانی جهان اسلام که قرار است در این کشور برگزار شود، دعوت شده است. به گزارش تاس، این نشست قرار است تا یک ماه دیگر (ثور سال‌جاری) در شهر... ص۳

## تأکید بر پروسس صد درصدی مس در داخل کشور




سرپرست وزارت معادن و پترولیم در دیدار با مسوولان شرکت قراردادی مس عینک، بر پروسس صد در صد مس استخراج شده در داخل کشور تاکید کرد.
دفتر مطبوعاتی وزارت معادن و پترولیم دیروز با نشر این خبر گفته است: در نشست که شیخ الحدیث شهاب‌الدین دلاور سرپرست آن وزارت با مسوولان شرکت... ص۳

## د با کیفیته نفتي توکو پر واردولو خبرې وشوې

د هېواد د سټنډرډ ملي ادارې عمومي رئیس ملا فیض الله تمیم په خپل کاري دفتر کې د ترکمنستان له سفیر خواجه عوضوف سره په کتنه کې پر دوه اړخیزو اړیکو خبرې اترې وکړې.
په دغه کتنه کې چې افغانستان له ملي سټنډرډونو سره سم د نفتي توکو او مایع ګازو د سوداګرۍ په برخه کې د آسانتیاوو د برابرولو په موخه ترسره شوه د سټنډرډ ملي ادارې عمومي رئیس وویل چې له نېکمرغه اوسمهال د ترکمنستان څخه، هېواد ته د واردېدونکو توکو کیفیت تر ډېره حده لوړ... ۳مخ



## شاروالی کابل: قانونِ برای خانه‌های زور آباد تصویب شده‌است



**شریعت:** از آنجای که مردم افغانستان، سالیان زیادی را در جنگ سپری نموده‌اند؛ شهروندان اما از بابت جنگ‌های دوام‌دار مجبور شدند که از ولایات مختلف به مرکز کوچ نمایند و از امنیت نسبی و امکانات شهری همرا با اعضای خانواده شان استفاده نمایند. شهروندان که دامنه‌های کوها را از ناچاری برای زندگی شان انتخاب نموده‌اند.
اما این خانه‌ها از سوی ریاست شاروالی کابل زور آباد عنوان داده شده و دامنه‌های کوها را مُلکیت دولتی و فضای سبز می‌داند.
شهروندان که از ناچاری و بابت وضعیت بدِ اقتصادی دامنه‌های کوها را بخاطر ادامه‌ی زندگی شان انتخاب نموده و اگر توان مالی میداشتن مکان‌های ... ص۳


لومړۍ برخه ـ د لاجوردو لار د بین‌المللي جیوپولټیک په رڼا کې ۲
ځوان نسل او علماء کرام! ۲
رویدادهای مهم تجاوز اسرائیل به غزه ۳
افغان اعلانات ۳


سرمقاله

## بشري مرستې د دایمي بې وزلۍ لامل ګرځي!

د اقتصاد وزارت ویاند یو ځل بیا غوښتنه کړې چې هېواد ته را رواني بشري مرستې باید پر بنسټیزو پروژو ولګول شي، خو په دې توګه هم یو شمېر هېوادوالو ته کاري فرصتونه په لاس ورشي او هم د ټول هېواد پر عمومي اقتصاد مثبت اغېز وکړي- د بشري مرستو په اړه ښایي اوس هر افغان په دې باوري وي چې په دې نامه روان پروګرام سراسر زموږ د خلکو په زیان تمامیږي، ځکه له تېرو شلورو لسیزو راهیسې چې دلته د جنګ جګړو اور بل شوی د میلیاردونو پیسو د لګښت ناري سورې اوربدل کیږي، خو موږ ته یې داسې کوم شي نه رامعلومیږي چې زموږ د بې وزلۍ کچه راکوزولې او له پردي احتیاجه مو خلاصولي شي. بلکې ښایي د بشري مرستو دا ټول پروګرام دي د همدې لپاره چې جنګ ځپلي بې وزله ملتونه پر همدغه ځیره روږدي او تل ترتله د همدوي په هیله لاس ترزنې او غافل پاتې شي- ښکاره ده چې دا ډول وګړي بیا خپل دماغ په کار نه اچوي پر نوښت فکر نه کوي او د خپل حالت بدلولو لپاره ملا نه تړي. بل لورته عموماً زیاتره جنګ ځپلي ملتونه هماغه قومونه وي چې ستر ځواکمن لوري کومه ښه خاطره هم ورڅخه نه لري او اصلاً د همدغه پروګرام له لارې له هغوی نه خپل پاتې انتقام اخیستل غواړي- دغه راز بل لورته د یادو مرستو منتظمین د همدغو بې وزله قومونو په نامه راغونډه شوې چنده کې د خپلې برخې غم هم کوي. تردې چې اوس مهال خو پردې محاسبه د هر چا سرخلاص دی چې موجوده بشري مرستو کې ایله څلوېښت سلنه یې پر خلکو وېشل کیږي او پاتې شپېته یې ټول د ښاغلو منتظمینو مصارف وي- ځکه خو یې په ټول هېواد کې څه درک و برکت نه ترسترګو کیږي او نه یې پر مټ کوم بې وزله هېوادوال له فقره راوتلی دی- په هر صورت اوس مهمه داده چې ایا زموږ اړوند چارواکي به وکړي شي، نړیوالې بشري مرستې بنسټیزو پروژو ته را واړوي؟ ځکه ښکاره ده چې یادې مرستندویه ادارې همېشه ټینګار کوي چې دوی ته فقط د سملاسي بشري مرستو لپاره پانګه ورکړې شوې، نه د هغو چارو او خدماتو لپاره چې ترسره کول یې د حکومتونو ذمه واري ده- خو په دې ترڅ کې یو بل واقعیت دا هم دی چې که د حکومت له خوا پر هغوی فشار واچول شي او د پروګرام بندولو ګواښ ورته وشي، ښایي ځینې بنسټیزې پروژې ومني، ځکه دوی هم په اسانه له خپلو موخو تېرېدونکي نه دي او په هر ډول شرایطو کې خپل کارونه جاري ساتل غواړي- لنډه دا چې د هېواد موجوده وضعیت ته په کتو اوس هغه وخت نږدې دی چې نړیوال مرستندوی بنسټونه یا زموږ پر مهمو پروژو کار وکړي او یا د پروګرام په بندلو وګواښل شي.

## پاکسازی بیش از سه هزار کیلومتر مربع زمین از ماین ها و مهمات منفجر ناشده

دفتر هیئت معاونیت سازمان ملل متحد در افغانستان (یوناما) از پاکسازی شدن بیش از سه هزار کیلومتر مربع زمین از ماین‌ها و مهمات منفجر ناشده باقی مانده از جنگها در کشور، خبر می‌دهد.
این نهاد همراه با انتشار نوارهای تصویری در صفحه‌های اجتماعی‌اش نوشته است:
«همکاران ماین پاکی بشردوستانه در افغانستان بیش از سه هزار و ۱۱ کیلومتر مربع زمین را از ماین‌ها و دیگر مهمات منفجر ناشده باقی مانده از جنگ پاکسازی کرده‌اند و آن را برای استفاده دوباره در اختیار سه هزار و ۴۴۴ جوامع محلی قرار داده اند.»
یوناما می‌افزاید که در طول... ص۳




## سرک بازسازی شده ولسوالی چمتال به بهره‌برداری سپرده شد



وزارت دفاع ملی می‌گوید، سرک بازسازی شده از سوی بخش انجنیری قول‌اردوی ۲۰۹ الفتح در ولسوالی چمتال ولایت بلخ، افتتاح و به بهره‌برداری، سپرده شده است. این وزارت دیروز با نشر خبرنامه‌ای از افتتاح این سرک، خبر داده است.
بربنیاد خبرنامه، سرک ولسوالی چمتال ولایت بلخ، ۱۰ کیلومتر طول و از مرکز این ولسوالی آغاز تا ساحه «بارگاه» امتداد دارد.
در خبرنامه گفته شده که این سرک در مدت یک ماه از سوی بخش انجنیری قول‌اردوی ۲۰۹ الفتح، بازسازی شده است.
به گفته وزارت دفاع ملی، با بازسازی این سرک، مشکلات زیاد باشندگان ولسوالی چمتال، مرفوع شده است.
گفتنی‌است که نیروهای اردوی اسلامی کشور علاوه بر وظایف اصلی‌شان، در بخش‌های اجتماعی و فرهنگی نیز فعالیت‌های را برای هموطنان، انجام می‌دهند.

# لومړۍ برخه ـ د لاجوردو لار د بین‌المللي جیوپولټیک په رڼا کې

**ثناءالله عمران**




اقتصاد ډیپلوماسي

د نړیوالـو اړیکو ځیني پوهـان پەدې باور دي چـې د سـرې جګړې پر مهـال او له هغه وروسـته کـه دولتونـه د اقتصادي او سـوداګرۍ له اړخه هر څومره ډېر سره جړ وزي ــ اقتصـادي تعاملات یـې تر منځ ډېر شـي ــ په هم هغه اندازه یې تر منځ د جګړې او ټکر شـونتیاوي هم لږېږي. نو د همدې باور پر بنسـټ که د نړۍ او سیمې هېوادونه په خپلو کې هر څومره اقتصادي او سوداګریز تعاملات ډېروي، په هم هغه اندازه به یــې خپلمنځي اړیکې د ترینګلتیا څخه خلاصي وي او د سـیمې سیاسي او اقتصـادي برخلیک به هم د شـېرازتیا او سمسـورتیا په لوري درومي. که څه هم د روسـیې ـ اوکراین جګړې له امله د مسکو او اروپا ترمنـځ اقتصادي بافت د دغه لید بنسټ لړزولی.

د افغانستان لەپاره له اوسني وضعیت څخه د وتلو لەپاره اقتصاد ډیپلوماسي ښه بنسټ ګڼل کېـږي، د اقتصادي او سـوداګریزو اړیکو پراختیا به په سیمه او نړۍ کې د نورو اړیکو ودې ته زمینه برابره کړي.

له همدې کبلــه د ا.ا.ا. بیا ځلي واکمنېدو او د ډیپلوماسـۍ د دستګاه له لوري ناپیلي بهرني سیاسـت ته په مخه کولو سره ــ تر ډېره بریده اقتصاد محوره بهرنی سیاسـت ــ توانېدلی څو پــه ډیپلوماټیکو، اقتصادي او ټرانزیټـي برخو کې پـام وړ پرمختګونه ولري.

د یاد سیاسـت پـه رڼا کې د افغانسـتان د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي څه موده وړاندې ترکمنستان ته رسمي سفر درلود او هلتــه یې له بېلابېلو ترکمن چارواکو سـره لیدني وکړې.

سره له دې چې یاد سفر ګڼ اړخونه درلودل خو ویل کیـږي چې د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو سرپرسـت وزیر له ترکمن چارواکو سـره خبرو او غونډو کې د لاجوردو لارې یادونه هم کړې. نومـوړي ویلي چې د لاجوردو لارې پـروژې بانـدې کار کېـږي او پــه بشپړېدو سره به یې د افغانستان سوداګریز توکي د اروپا بازارونو ته ورسـیږي. په یاد سـفر کې افغان لوري له ترکمنسـتان سره په راتلونکي کې په دې تړاو د یوې ناسـتې جوړېدو په اړه هوکړې ته سـره رسـېدلي دي. دا چې د لاجوردو لار له اروپا سـره د افغانسـتان د نښلولو تر ټولو لنډه لار ده، نو له همدې امله د لاجـوردو ټرانزیټي لار په اړه پــه ۲۰۱۲ ز کال کې په لومړي ځل د سـیمې د هېوادونو تر منځ خبرې وشوې، په ۲۰۱۸ ز کال رسماً په هرات کې افتتاح شـوه او په همدغه کال کې د افغانستان یو شمېر توکي ترکیې ته ورسېدل.

هغه مهال د دې لارې په رسـمي پرانیستل کېدو سـره ، پس له ډېره وختــه د لومړي ځل لەپاره افغاني توکي په لسـو لاریو کې بـار د ترکې په لوري حرکـت وکړ او د ۱۶ ورځو وروسـته خپل مقصود منزل (ترکې) ته ورسېدل.

د لاجــوردو لاري طرحې تــه هغه وخت د ذي نفع هېوادونو پاملرنه زیاته شـوه کله چې دغه موضوع د افغانسـتان په نوښـت پــه ۲۰۱۴ ز کال کې دښـکېلوهېوادونو– افغانسـتان، ترکمنسـتان، آذربایجـان، ګرجستان او ترکیې ــ تر منځ مطرح شول. یاده طرحه د افغانسـتان نوښـت دی او د ۲۰۱۷ زکال د نومبـر پـر ۱۵ نېټه د پنځو هېوادونو د بهرنیو چـارو وزیرانو تر منځ د ریکا (RECCA) پــه اووم کنفرانس کې یې هوکړه لیک لاسلیک شو.

افغانسـتان په وچه کې را ګیـر هېواد دی او د دې لەپـاره چې د سـیمې د هېوادونو لــه احتیاجه ځـان وباسـي، د دې لارې رغاول ورته اړین دي. دا چې اوسـمهال په افغانستان کې سراسري امنیت راغلی نو پر همدې بنسټ د لاجورد لارې پراختیا او بیا فعالېدو ته هیلې او توقعات په ډېر بدو دي. بلخوا دا چې د اوکرایـن د جګړې له امله د شـمالي کوریـډور څخــه د ګټني کچه راټیټه شـوې پر ځای یې د منځنی اسیا او سـویلي قفقاز هېوادونو، په ځانګړې ډول د اذربایجان؛ ګرجسـتان او ترکیې تر منځ پــه فعاله توګه د لوجسـتیک او لېږد رالېږد پــه برخو کې همــکاري د پیـاوړي کېدو په درشــل کې ده. دغه هېوادونــه د بدیلو ټرانزیټــي لارو پر جوړولو او پراختیا باندې ډېر تمرکز کوي په ځانګړې توګه د منځني او لاجورد کوریډورونو باندې.

د خپلواکــو تحقیقاتــي مؤسســو د څېړنو پــر بنســټ د لاجــوردو د لارې مخېنه تر دوو زرو کلونــو وړاندې ته رسـیږي او په حقیقت کې د وربښــمو د لارې څخه یوه لار ده. هغه مهال بدخشــان د لاجوردو په شــمول د افغانسـتان ډېرى ګران بیه توکي له همــدې لارې اروپــا، بالکان، هند او د افریقا ساحلي هېوادونو ته لېږدول کېدل له همدې کبله هغه مهال دغه لار د لاجوردو د لار په نامه سره ونومول شوه.

د لاجــورد لار په افغانســتان کې د هرات ولایــت د تورغونډۍ او پــه فاریاب کې د آقینــې د بندرونــو څخــه پیلېـږي او د ترکمنســتان د ترکمن باشــي بنــدر څخه تیرېـږي، چې لــه هغه څخه وروســته د آذربایجان د باکو ښار ته رسیږي، ورپسې د کسپین ســمندرګي ته رســېږي. له هغه څخه وروســته د ګورجســتان د تفلیسي ســیمې او ورپسې توره ســمندرګي څخه تیرېږي او بیا ترکیــې او د اروپا آزادو اوبو ته رسېږي.

د لاجــوردو لارې ســوداګریز او ټرانزیټي مسیر، افغانستان، د سویلي اسیا او منځنۍ اســیا هېوادونه د ســړک، رېــل پټلۍ او د بحري لارو په واســطه د اروپــا او منځني ختیځ هېوادونه سره تړي.

د افغانســتان په شــان هېوادونو لەپاره چې په وچه کې راګیر دي، اروپا ته د ټولو لارو څخه یوه تر ټولو لنــډه او مطمئنه ټرانزیټي لاره ده، حتــی چې تر کراچــۍ او چابهار بندرونو یې هم ښېګڼې ډېرې دي.

د کراچۍ بندر له لارې افغانســتان اروپا ته د خپلو توکو لېږد لەپاره شــل ساعته وخت ته اړتیا لري خو د لاجــوردو لار بیا یوازې شپاړس ساعته وخت نیسي.

د افغانستان لەپاره د سوداګریزو او ټرانزیټي لارو متنوع کول د افغانســتان او ســیمې پر سیاســي او اقتصادي برخلیک او ثبات باندې د پام وړ اغېز کولی شي، پەدې ډول ســره کولی شــو چې ووایو که د لاجوردو لارې د بیا فعالېدو په برخه کې اقدام کیږي دا به د تاپي (TAPI)، کاســا زر، افغان ـ ټرانس پروژو پەشــمول د افغان حکومت لەپاره د مهمو لاسته راوړنو څخه وګڼل شي چې له کبله به یې د هېواد اقتصاد ورسره تر ډېره بریده وده وکړي.

# د مدینې پر لور

**اوومه برخه**

**لیکوال: سید ابوالحسن ندوي رح / ژباړن: محمدصادق طارق**

اقبال په همدغه شــوق او خوشحالۍ مزل لنډوي تر څو مدینې منورې ته رســېږي؛ هلته د ســفر ملګري ته وایې: زما قدرمن ملګــری! زه او ته نن خپــل پخواني آرمان ته رسـېدلي یو راشــه چې له محبوب سره څو کلمې خبرې وکړو او اوښــکې یې پښو ته نثار کړو.

بیا ای همنفس با هم بنالیم
من و تو کشته‌ی شأن جمالیم
دو حرفی بر مراد دل بگوئیم
به پای خواجه چشمان را بمالیم

وروســته په همدې نیکمرغۍ باندې غبطه خوري چې څنګه د رســول الله صلی الله علیه و ســلم د سلطانۍ بارګاه دروازه اقبال غونډې درویش انســان ته خلاصېږي! نو ځکه ځان ته ځواب وایې چې: «د تعجب ځای نه دی په دغســې دربــار کې لوڅې پښې میینان د زمانې تر پوهانو غوره وي».

حکیمان را بها کمتر نهادند
به نادان جلوه‌ی مستانه دادند
چه خوشبختی چه خرم روزګاری
در سلطان به درویشی ګشادند

اقبال د خوشــحالۍ او سعادت په دغسې ســتر عالم کې بیا هم اســلامي امت او د هند ملت نه هېروي، په صادقانه لهجې او غښتلي کلام یې د زړه دردونه بیانوي چې:

مسلمان آن فقیر کج کلاهی
رمید از سینه او سوز و آهی
دلش نالدا چرا نالد؟ نـدانـد
نګاهی یا رسول الله نګاهی

هغه وایې: ای د الله تعالی ســتر پیغمبره! زه د داسې امت په اړه څه درته ووایم چې د شــوکت له بام څخه د انحطاط د کندې تل ته رالویدلی وي؟

چه ګویم ز آن فقیری دردمندی
مسلمـانی به ګـوهر ارجمنـدی
خدا این سخت جان را یار بادا
که افـتادسـت از بام بلـندی

وروســته د همــدې انحطاط پــر لاملونو رڼېږي او وایــې: د امت په بې نظمۍ کې ســتر لامل د رهبریت او امامت نه شتون دی (هــر یو ځان تر بل غوره بولي او د یوه انسان پر رهبریت نه راټولېږي).

هنوز این چرخ نیلی کج خرام است
هنوز این کاروان دور از مقام است
ز کــار بـی‌نــظام او چـه ګویم؟
تو می‌دانی که مـلت بی‌امـام است

وروســته وایې: په اوسنیو مســلمانانو کې د زیار ابســتلو، لوړ همت او تجدد څرک لا نه تر ســترګو کېږي؛ لکه څنګه چې یې جېبونه له لوټونو تش دي په همدا ډول یې ټېکې له تورو تشــې دي او هغه کتاب چې مســلمانانو یې په مټ درســته نړۍ فتحه کړه د کور د طاق په کونج کې پروت دی.

نماند آن تاب و تب در خون نابش
نروید لاله از کشـت خرابـش
نـیام او تهـی چون کیسه‌ی او
به تاق خـانـه ویـران کتـابش

**نور بیا ...**



# ځوان نسل او علماء کرام!

**دادمحمد ناوک**

پــه عربــي جزیره کــې د رســول الله صلی اللــه علیه وســلم د مبعوث کېدو یــو حکمت دا ښــودل کېــږي، چې د حضــرت ابراهیــم علیه السلام د دعا مطابق په دې مشرفه خاوره کې د افرادو چاپ روان و، تر دې چې داسـې خلک برابر شـي، چـې د دې معظـم پیغمبر صلی الله علیه وســلم د ملګرتیا ظرفیت ولري او وروسته یې د دروند مسؤلیت د ادایني وړتیا پکې موجوده وي؛ د رسول اللــه صلی اللــه علیه وســلم له رحلت وروســته ســره له دې چــې مرکزیت له منځــه تللی و، ســره له دې چــې دا یو دوه کاله وړاندې لـــه رومي امپراطورۍ ســره ټکر راغلی و، ســره له دې چې د مدینې منـورې مبارکې کوڅې د منافقانو د قدمونو شــاهدې هــم وې، خو بیا هم ملګــرو وار خطا نه کړ او د رســول الله صلی الله علیه وســلم تر تدفین وړاندې یې د مسؤل ټاکلو لپاره هڅې پیل کړې.

له هغه وروســته چې د تابعینــو، بیا تبع تابعینو او نــورو اســلافو د دې مبارک نظام - اسـلام - د را رسـولو، ساتلو او پاللــو لپاره کومې ســتړې تېــرې کړې دي، نــو که یــې د دې زمانې ســړی پر ځــان تصور کړي ښخي ورتــه د نه منلو ښــکارېږي، دا چــې یــوازې د مبارکو احادیثــو پــه خاطــر امیرالمؤمنین فی الحدیث حضرت امام بخاري رحمه اللــه ۱۴۰۰۰ کیلومتــره لار وهلې، دا چې یــو عالــم د دین د تبلیـغ، دعوت او مبارزې لپاره یې مجــرد ژوند غوره کړی...

همــدا د ژوند الهــي نظام لــه همدې چینلونــو - علماءکرامــو- تــر مــوږ را ورسـید، هر وخت چې پر دې نظام هر ډول یرغل شــوی په وړاندې یې همدې کسانو حتی که په تــش لاس وې هم، د مقابلــې لپاره ســینې ســپر کړې او د تاریــخ پاڼې که واړوئ نــو د لویو لویو امپراطوریو یې خیال هم نه دی ســاتلی! اوس چې رسـنیو بې بندوباره آزادي را منځته کړې او د پرمختګ یوه نښــه بلل کېــږي - که څــه هم ننني تــول لوېدیځ تمدن زموږ په نظــر د حماقت له رنګینو پوښــو پرتــه هیڅ نــه دی - ورســره پر مســائلو د خبرو صلاحیت هم هر چا په لاس کې اخیســتی او دې «هرچا توب» دا ســتونزه پیدا کړې چې ټولنیز مسائل، رواني پېښــې، سیاسي تحولات او حتی دیني موضوعات د هر چا د بحث شــول او هــر څوک هڅه کــوي د دې پر ځای چې ځان د شــته واقعیتونــو او تحلیلونو تابع کړي ټول مســائل د خپل ذوق تابع کول غواړي، چــې په دې کې بیا نو زمو ځوان نســل په کــوم توپیر هــم قانع نه دی، دوی د یــوې ادبــي موضوع، یوې هنــري ټوټې، یــوې ټولنیزې پېښــې او یــوې مهمې دیني فتوا پــه منځ کې هیڅ توپیــر نه کوي او دا چې پــه نورو برخو کــې یې ځان ته د خبــرو حق ورکړی په دینــي موضوعاتو کې هــم هڅه کوي، خپــل نظــر ولري یــا په داسـې ادرس پسـې وګرځي چې د ده نظر، د ده ذوق او ارمان یــې په دینــي مصطلحاتو کې تشریح کړی وي.

نه دیني نظام نوې پدیده ده، نه هم زموږ ټولنــه نوې پــه دې دین مشــرفه کېږي، خو بیا هم په ټولنیزو رســنیو کې داسـې ښــودل کېږي چې باید پر ټولو مســائلو بېرته له ســره خبرې وشي او حتی د دین پر اساســاتو بحثونه وشــي، تر څو دین ننیــو ذوقونــو، شــرایطو او طبیعتونو ته وتوږل شــي، کله چې بیــا ذوق، ټولنیز وضعیــت او طبیعــت بدل شــو، بیا یې ورســره بدل کړو او پــه دې ډول د دې پر ځای چــې ځانونه د دیــن تابع کړو دیني اساســات په ځان پسې روان کړو، چې لســیزه وروســته به یې خپل اصلي شــکل نه وي پاتې په نتیجه کې به ټولنه حس کړي چې دا اړول شــوی را اړول شــوی دیني سیســتم د ژوند جوړښتونو ته ځواب ګوی نه دی، نو به د بلې لارې په لټه کې شــي او په دې ډول به دوی په نماینده، الګو او نمونه ژوندني سیســتم پسې ګرځي، چې طبعاً به د خپل عادت لــه مخې لوېدیــځ ټاکــي او نهایتاً به د انســان د متغیر عقل زېږېدلی وروست سیســتم پر ټولنه تطبقېږي او په دې ډول به یې دین له ژونده ایسـتلی وي!

ځکه خو د مســلمانانو په حیث ښتوني علماءکــرام زمــوږ شــعایر دي، د دین رســونې ادرســونه دي او د ټولنیزې رهبــرۍ ســرلاري دي؛ کــه دا طبقه په داســې مســائلو داغداره کــوو، چې په اعمالــو او باور کې مو هیڅ رول نه لري نو په لوی لاس خپلې پښــې په تبر وهو! پــر دینــي موضوعاتــو او مذهبــي ډلو رســنیزې ناندرۍ موږ ته لــه ګاونډیانو را انتقــال شــوې، خــو پــر مشــخصو موضوعاتــو حتی لــه دیني طبقې ســره د ترلیو رســنیزو فعالانــو نیوکې پر دې ارزې چــې بحث پرې وشــي؛ عربي مقولــه ده چې انســان ډېــری وخت له هغه څه سره دوښــمني کوي چې نه یې پېژنــي؛ د دې معنــی دا ده چې کله زمــوږ ظرفیت تر دې ټیټ وي چې په یوه موضوع مو ســره خلاص شــي، کله چې ســر ناخلاصي را منځته شــي نو له رواني اړخه انســان حکــم کوي چې دا موضوع دغســې نه ده؛ ولې؟ ځکه نه ده مخکــې اورېدلې، نه یې اوس اورېدلې، نه یې بــل ځای اورېدلې او نه دغســې تجربه لري؛ دا یې د ځان د قناعت لپاره له ځان ســره جوړ کړي دلایل دي؛ خو کلــه دی له دې خاطره چــې ځان ورته کم ښکاره نه شي نو پر خپلې بې وسۍ، کم علمۍ یا د درک پر بې وسۍ اعتراف نــه کوي او مخامــخ پر عالم یــا یې پر موضوع رد کــوي، د رد لپاره یې دلایل پورتني وي، دی حتــی د هغو منابعو پر بنســټ هم استدلال نه شــي کولی چې همــدې دیني عالم پرې حوالې ورکړې.

مثــلاً د روحانــي رابطــې، د هغــو موجوداتــو په اړه چــې بیولوژي یې مره بولي د ژوند اعتراف او ورته نور مسائل هغــه موضوعات دي چې په ګڼو رواني، ساینســي او منطقــي دلایلــو ثابتېدلی شــي؛ خو دغه اثبات د ټولو لپاره د درک نــه دی او اړتیا هم نه ده چــې اثبات ته ورســېږي، ولې؟ ځکه دا علمي بحثونه دي او د اهــل علــم تر منــځ بحثېدلی شي.

د دې تــر څنګ پــر دینــي علماءکرامو نیوکــې، بحثونــه او حتــی حیثیــت یې داغــداره کــول د هغــو موضوعاتــو او مســائلو له خاطره هم نه دی چې ځینې اســتدلال پــرې کــوي، ځکــه د ځینو مشــخصو علماءکرامــو همــدا غږیز او ویډیویي درســونه کلونــه وړاندې ثبت شــوي او نشــر شــوي خو څو کاله یې پر وړاندې دغســې تعامــل نه کېده، خو کله چــې زمــوږ ټولنه کې دینــي عالم اقتــدار ته ورســید، نو مقابلــې ته یې د تېرو دوو لســیزو په څېر داسې خلکو د مخالفــت مټې را بډوهلــې چې نه دیني ورحیه لــري، نه دیني اســتدلال کولی شــي او نه یې ډېری پر دینــي نظام باور لري، دوی ته دا ښــه زمینه ښــکاره شوه چې تر عامــه ذهنیت د پورتــه پخوانیو مســائلو د شاربلو له لارې پر دیني عالم باور کمزوری کــړي او د دې کمزورۍ پــه پایله کــې د خپل فکــر ملګرې پیدا کړي؛ ځکه دوی د اوســنۍ حکومتولۍ اړوند دغســې دلیل نه شــي پیدا کولی چې خپل مخالفت پرې توجیه کړي؛ له همدې امله اړ دي چــې د عامه ذهنیت د ګډوډۍ لپاره زور ووهي.

وروســتۍ دا؛ چې دیني علماءکرام باید د واک پر ګــدۍ دا په پام کې ونیســي چــې له ښــوېېدو ســره یې نــه یوازې سیاســي حاکمیت پرځېدلی شي، بلکې دیني باور او شــعایرو ته تاریخي صدمه رســېدلی شــي، نو دا چې له واک سره ســره د علمي او روحاني طبقې تقدس وساتل شي، تر وروســتي بریده باید په حکومتولۍ کــې دقیق، عادل او محتاط واوسي.

# رویدادهای مهم تجاوز اسرائیل به غزه

**منبع: الجزیره انگلیسی / ترجمه و تخلیص: سروری**

جنگ و بحران بشری

•هزاران فلسطینی در حملات بی وقفه‌ی اسرائیل در سراسر غزه شهید شده اند، از جمله ۱۵ نفر در یک مرکز ورزشی در شهر غزه شهید شده اند که در آنجا صدها نفر از مردم آواره در نتیجه بمباران پناه گرفته بودند.

•جمعیت هلال احمر فلسطین اعلام کرد که نیروهای اشغالگر صهیونیستی اسرائیل از آغاز جنگ غزه ۲۶ نفر از کارکنان این نهاد را شهید کرده است که ۱۵ نفر از آنها را در جریان انجام عرضه خدمات صحی مورد هدف قرار گرفته است.

•وزارت صحت نوار غزه از شهید شدن دست کم ۷۱ فلسطینی و زخمی شدن ۱۱۲ فلسطینی در ۲۴ ساعت گذشته خبر داد است.

•دولت حاکم در نوار غزه اعلام کرد که در نتیجه حمله نیروهای اشغالگر صهیونیستی اسرائیل به یک توقف گاه پولیس در محله شجاعیه در نوار غزه، دست کم ۱۷ نفر شهید شده اند.

• دیوان عالی بین المللی که از اسرائیل می خواهد اجازه دهد کمک‌های بلا مانع به غزه، جایی که قحطی آغاز شده است، را صادر کند، استقبال نموده است.

دیپلوماسی و تنش های منطقه ای

• یوآو گالانت، وزیر دفاع اسرائیل گفت که نیروی های کشور اش عملیات خود را علیه حزب الله گسترش خواهد داد. ساعاتی پس از اینکه اسرائیل اعلام کرد معاون واحد موشکی این گروه را در جنوب لبنان کشته است، او گفت: ما به هر جایی که این سازمان عمل کند، در بیروت، دمشق و جاهای دورتر مورد حمله قرار خواهیم داد.

•روزنامه‌ی واشنگتن پست گزارش داد است، با وجود فشار های فزاینده سناتورهای دموکرات و اعضای کنگره برای محدود کردن کمک های نظامی به اسرائیل، ایالات متحده به ارزش ۲٫۵ میلیارد دالر دیگر سلاح به اسرائیل ارسال خواهد کرد. در این گزارش آمده است، این بسته شامل ۱۸۰۰ بمب ۲۰۰۰ پوندی MK۸۴ است که می تواند به افراد تا فاصله ۱۰۰۰ فوتی (۳۰۰ متری) آسیب برساند و به رویداد های تلفات جمعی قبلی در طول عملیات نظامی اسرائیل در غزه مرتبط است.

•روسیه و ایران، اسرائیل را به دلیل حملات هوایی مرگبارش به سوریه که منجر به کشته شدن تعدادی از اعضای حزب الله شد، محکوم نموده و آن را نقض حاکمیت این کشور خوانده اند.

ادامه خشونت های نیروهای اشغالگر اسرائیلی در کرانه باختری اشغالی

• در شهر قاباطیه در جنوب جنین، نیروهای اشغالگر صهیونیستی یک طفل ۱۳ ساله فلسطینی را شهید نموده و چند جوان دیگر فلسطینی را زخمی نموده اند.

## امارت اسلامی به نشست مجمع جهانی...

«کازان» روسیه برگزار شود.

آقای کابلوف همچنان گفته که امارت اسلامی یکی از اعضای اشتراک کننده در این نشست خواهد بود. نماینده ویژه روسیه در امور افغانستان از کار مشترک مسکو با کابل در بخش مبارزه با تروریسم، نیز خبر داده است.

مسکو در حالی از مبارزه مشترک با افغانستان در بخش مبارزه با تروریسم سخن گفته که اخیراً اتشه نظامی امارت اسلامی در سفارت کشور در روسیه کارش را رسما آغاز کرده است. روسیه از کشور آسیایی و عضو دایم شورای امنیت سازمان ملل متحد است که روابط گسترده‌ای در ابعاد سیاسی، اقتصادی و تجارتی با افغانستان دارد.

## اخراج اجباری مهاجران افغان از کشورهای...

ادامه اخراج اجباری مهاجران افغانستان از کشورهای همسایه را خلاف قوانین بین‌المللی مهاجرت دانسته است.

در خبرنامه آمده که مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری رییس‌الوزرا از کمک‌های بشردوستانه جامعه جهانی به مردم افغانستان، قدردانی کرده است.

معاون اداری رییس‌الوزرا از همکاری امارت اسلامی در توزیع کمک‌های بشری به مردم افغانستان با نهادهای بشردوستانه، اطمینان داده است. این در حالی است که همه‌روزه از سوی برنامه جهانی غذا برای هزاران خانواده در ولایات مختلف کشور، کمک‌های بشردوستانه توزیع می‌شود.

## اسلامي امارت اقتصادمحوره...

په ټوله مانا غندي او په غزه کې د ټولو بشري او بين المللي اصولو خلاف ترسره کېدونکي بريدونه نړيوال نظم او قوانينو ته ګواښمن بولي.

د رياست الوزرا مرستيال څرګنده کړه، د اسلامي امارت له واکمنۍ وروسته په افغانستان کې بشپړ امنيت تامين دی، د نشه يي توکو کښت، قاچاق، سوداګري او کارونه منع شوي، اداري فساد له منځه تللی، د رسنيو فعاليت بهتر شوی، روږدي راټول شوي او په دې وروستيو کې له يو ميليون زيات افغان کډوال چې له ګاونډيو هيوادونو څخه په زور راايستل شوي وو، په ښه توګه مديريت شوي دي. مولوي عبدالسلام حنفي څرګنده کړه، اسلامي امارت د سيمې او له سيمې ور اخوا ټولو هيوادونو څخه غواړي چې نورو هيوادونو ته د ځوانانو د مهاجرتونو د مخنيوي، د نشه يي توکو د ختمېدو او په افغانستان کې د ثبات د تضمين لپاره د افغان ټرانس، هرات – بولدک، چاه بهار بندر، لاجورد لارې، واخان کوريډور او ټاپي لويو پراختيايي پروژو د تطبيق لپاره پانګونه وکړي. د رياست الوزرا اداري مرستيال زياته کړه، په افغانستان کې امنيت نه يوازې د دې هيواد د اوسېدونکو لپاره مهم دی، بلکې د سيمې او له سيمې ور اخوا د ټولو هيوادونو په ګټه دی، نو په دې خاطر په افغانستان کې د ثبات د دوام لپاره په بېلابېلو برخو کې پانګونه اړين کار دی. نوموړي د کاسا زر پروژې د عملي کېدو لپاره يې د نړيوال بانک د اقدام هم مننه وکړه. مولوي عبدالسلام حنفي له بېلابېلو هيوادونو څخه د افغانانو په زور اېستلو منفي اغېزو ته په نغوتې وويل، په دې برخه کې بايد جدي پاملرنه وشي. دا کار دوه اړخيزه اړيکو او د ګاونډيتوب موضوع کې مرسته نه کوي او همدارنګه يې څرګنده کړه، د افغانستان اسلامي امارت د نړۍ له ټولو هيوادونو سره د ښو اړيکو غوښتونکی دی او غواړي چې افغانستان يو اقتصاد محوره هيواد وي او د هيڅ هيواد په داخلي چارو کې لاسوهنه نه کوي او غواړي چې نور هيوادونه هم د افغانستان په داخلي چارو کې مداخله ونه کړي. د رياست الوزرا اداري مرستيال په ايران، روسيې او پاکستان کې د شويو بريدونو په غندلو سره او په هغه کې د چينايي وګړو وژل کېدو ته په اشارې وويل، موږ دغه بريدونه چې د عامو خلکو د وژنې لامل کېږي غندو.

## تأکید بر پروسس صد در صدی مس...

قراردادی مس عینک داشت در رابطه به پیشرفت های اخیر پروژه، ایجاد فابریکه پروسس مس، منابع تولید برق و چگونگی آغاز کار عملی در آینده های نزدیک بحث و تبادل نظر کرد.

سرپرست وزارت معادن و پترولیم از شرکت قراردادی خواست طبق تعهدات قبلی شان عمل کرده و پروسس مس صد در صد در داخل کشور انجام شود.

مسولان شرکت قراردادی به سرپرست وزارت معادن و پترولیم اطمینان داد کار عملی این پروژه را طبق تعهدات در آینده های نزدیک آغاز خواهد شد.

روند استخراج مس عینک با یک شرکت چینایی قرار داد شده است.

## شاروالی کابل: قانونِ برای خانه‌های...

درست و مناسب را برای زندگی شان انتخاب می‌کردند. شهروندان که کتابچه‌ی صفایی دارند و همه ساله با شروع سال جدید می‌روند و مطابق به تصویب جایداد شان که از سوی ریاست شاروالی کشور قبلاً تثبیت شده بود پولِ صفایی می‌پردازند.

اما نعمت‌الله بارکزی، مشاور فرهنگی ریاست شاروالی کابل به روزنامه‌ی شریعت گفت که خانه‌های که در دامنه‌های کوها از سوی شهروندان ساخته شده زور آباد است و مُلکلیت دولتی‌است: «خانه‌های که در دامنه‌های کوها ساخته شده زور آباد است و کتابچه‌ی صفایی سند ملکیت شخصی شده نمی‌تواند».

وی نیز اشاره نمود که برای خانه‌های که در دامنه‌های کوها ساخته شده قانون تصویب شده است: آقای بارکزی از چگونه‌گی و محتوای قانون ابراز بی خبری کرد اما می‌گوید: «قانون مشخص در قسمت استراد زمین های غصب شده وجود دارد که از سوی کمیسیون غصب زمین‌ها تعقیب و اجراآت می‌شود.»

این‌درحالیست که مالک خانه‌های که در دامنه‌های کوها به‌سر می‌برند اکثراً از وضعیت اقتصادی خوبی برخوردار نیستند. شهروندان که از ناچاری دامنه‌های کوها را با وجود مشکلاتِ نبود آب و سایر سهولت های زندگی انتخاب کرده اند و با آن هم کتابچه‌های صفایی را با پول هنگفت بدست آورده‌اند و همه ساله نظر به تثبیت ریاست شاروالی کابل پول صفایی را پرداخت می‌نمایند.

**ببرک قیومی**

## د بودجې له توشېح پرته، دولتي...

ته استول شوې ده.

د هېواد د ملي بودجې له تصويب سره به د دولتي ادارو د مالي او پراختيايي بودجو د تطبيق زمينه برابره شي.

## د با کيفيته نفتي توکو پر...

د وارداېدونکو توکو کيفيت تر ډېره حده لوړ شوی او هيله يې وښوده چې د کيفيت په برخه کې شته ستونزې هم حل شي. ورته مهال د ترکمنستان سفير خواجه عوضوف د ستېنډرډ ملي ادارې له فعاليتونو څخه ستاينه وکړه او افغان دولت ته يې د خپل هېواد د دوامداره همکارۍ ډاډ ورکړ. دغه راز دې کتنې کې پرېکړه وشوه چې په نږدې راتلونکي کې به د انلاين ناستې په جوړولو سره د سوداګرو ستونزو د حل په برخه کې په اساسي ډول د بحث او نظرونو تبادله وشي.

## د نيله باغ پروژې عملي چارې...

د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ او زياته يې کړه، چې د پروژې چارې به د ټرون سره سمې پر مخ ځي او د راتلونکو ستونزو د حل په موخه به ګډې هڅې کوي.

د نيله باغ هستوګنيزه پروژه چې چارې يې د تېرو څو کالونو راهيسې ځنډېدلې وې، اوس يې ستونزې حل شوي او عملي چارې به يې پيل شي.

## پاکسازی بیش از سه هزار کیلومتر مربع...

دهه‌های گذشته، هزاران فرد ملکی در اثر انفجار ماین و مهمات منفجر ناشده باقی مانده از جنگ در افغانستان جان‌باختند و یا زخمی شده‌اند که بیشتر آنان را کودکان تشکیل می‌دهند.

به گفته‌ی یوناما؛ هزاران ماین زمینی و مهمات منفجر ناشده باقی مانده از جنگ صدها محل زیست در افغانستان را تهدید می‌کند و برای محافظت و ساخت، کار بیشتری نیاز است.

این در حالی است که دو روز قبل، ده کودک در دو رویداد جداگانه در ولایت‌های غزنی و هرات از اثر انفجار ماین‌های منفجر ناشده جان باخته‌اند.


# افغان اعلانات

خلص موضوع: در رابطه به اعلان سیستم خدمات انترنت مورد نیاز اداره ملی ستندرد بابت سال مالی ۱۴۰۳ ؛

اداره ملی ستندرد از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی تدارک خدمات سیستم انترنت مورد ضرورت مرکز با ظرفیت 60Mbps/60Mbps Dedicated Full Duplex Fiber Optic or Point to Point Internet with 80% Point to Point Physical Back Up 365/7/24 اشتراک نموده و سافت شرطنامه مربوطه را در فلش دیسک بطور رایگان از آمریت تدارکات اداره ملی ستندرد بدست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ روز تقویمی به آمریت تدارکات اداره ملی ستندرد واقع شهرک صنعتی، گذشته از سرک نو، بزرگ راه کابل جلال آباد ارایه نمایند. آفر های نا وقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر به شکل تضمین بانکی مبلغ (۳۶،۰۰۰) سی و شش هزار افغانی بوده و جلسه آفرگشایی ۲۱ یوم تقویمی بعد از تاریخ نشر اعلان به ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در آمریت تدارکات واقع منزل سوم اداره ملی ستندرد تدویر میگردد.

***

**{تدارک خدمات کرایه گیری سه دربند حویلی}**

شماره شناسائی:

(AMC/PD/NCB/NCS02 /1403)

{ شورای طبی افغانستان } ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی} تهیه و تدارک کرایه گیری سه دربند حویلی برای دفتر شورای طبی و سکونت مقام شورای طبی افغانستان } شرطنامه مربوطه را در فلش دسک(حافظه) بطور رایگان از مدیریت عمومی تدارکات شورای طبی بدست اورده، و آفرهای سربسته خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه ؛ طبق قانون وطرزالعمل تدارکات از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ روز به مدیریت عمومی تدارکات ارایه نمایند. آفرهای دیر رسیده و انترنیتی پذیرفته نمیشود.

تضمین آفر لات اول مبلغ ۴۵۰۰۰/ چهل پنج هزار افغانی و لات دوم ۲۰۰۰۰ / بیست هزار افغانی و برای لات سوم ۲۵۰۰۰/بیست و پنج هزار افغانی تضمین بانکی/نقدا وجلسه افرگشائی بعد از تکمیل ۲۱ روزتقویمی ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر دراطاق جلسات شورای طبی تدویر میگردد.

آدرس: (سرک پارک شهر نو کوچه اول عقب تعمیر شرکت MTN خانه نمبر ۱۴۷ ، شهر کابل ، شورای طبی افغانستان )

***

**{تدارک خدمات MB ٦٨ انترنت}**

شماره شناسائی:

(AMC/PD/NCB/NCS01 /1403)

{ شورای طبی افغانستان } ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی} تدارک خدمات MB 68 انترنت } شرطنامه مربوطه را در فلش دسک(حافظه) بطور رایگان از مدیریت عمومی تدارکات شورای طبی بدست اورده، و آفرهای سربسته خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه ؛ طبق قانون وطرزالعمل تدارکات از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ روز به مدیریت عمومی تدارکات ارایه نمایند. آفرهای دیر رسیده و انترنیتی پذیرفته نمیشود.

تضمین آفر مبلغ ۲۵۰۰۰/ بیست پنج هزار افغانی تضمین بانکی/نقدا وجلسه افرگشائی بعد از تکمیل ۲۱ روزتقویمی ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر دراطاق جلسات شورای طبی تدویر میگردد.

آدرس: (سرک پارک شهر نو کوچه اول عقب تعمیر شرکت MTN خانه نمبر ۱۴۷ ، شهر کابل ، شورای طبی افغانستان )

***

**اعــــــلان**

د عدلیی وزارت د انسجام لوی ریاست د تولنو چارو ریاست په پام کی لری چی د ټولنی دلاښه تنظیم په موخه د اتحادیو او خیریه بنستونو له کړنلاری سره سم، بنیاد خیریه آسیه ته د فعالیت جواز ورکړی

دیاد جواز اخیستلو حیات الله د عبدالقیوم زوی ، د کنر ولایت سیګل لسوالی اصلی او د کابل ولایت ۳ ناحیې فعلی اوسیدونکی د رییس ، او عنایت الله د عبدالوهاب زوی د نورستان ولایت و اما ولسوالی اصلی او د کابل ولایت ۴ ناحیې فعلی اوسیدونکی د مرستیال په توګه عارض شوی که پر یادو اشاخاصو دصنف اړوند کوم څوک نیوکه لری د اعلان له نیتی څخه تر لسو ورځو پوری د عدلیی وزارت یاد ریاست ته خپل شکایت له اسنادو او شواهد و سره یوځای په لیکلی بنه وړاندی کړی له یادی نیبی وروسته به نوموړو اشخاصوته د فعالیت جواز صادریږی چی دجواز د صدور له نیتی څخه د جوار ترنهایی نیتی پوری په یادو اشخاصو څوک د شکایت حق نه لری ۲۲۱.

***

**اطلاعیه مفقودی مهر دواخانه**

محترم احمد جاوید فرزند نادر الله ولدیت عبید الله دارنده تذکره نمبر ( ۳۰۳۹۵۸۲۶ ) ( جلد دوم ق ۱۳۹۱ پ ۵۹ ث ۲۹۴ ) مسکونه اصلی ولایت هرات مالک امتیاز دواخانه عمر فاروق واقع ولسوالی شهرک اسلام قلعه ولایت هرات عنوانی این اداره عارض و از مفقودی مهر و لوحه دواخانه خویش خبر داده است

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد آگاهی حاصل نموده و از تاریخ نشر اعلان مطابق قانون و مقرره مهر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد.۲۳۴

***

**اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه**

محترم نصرت الله صاحب زاده فرزند اسد الله صاحب زاده ولدیت غلام نقیب دارنده تذکره نمبر ( ۲۶۷۷۴-۱۱۰۱- ۱۴۰۲ ) مسکونه اصلی ولایت کابل مالک امتیاز دواخانه اسد الله صاحب زاده واقع ناحیه اول ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم سید محمد موسی یعقوبی فرزند سید ناصر خان ولدیت سید یعقوب جان دارنده تذکره شماره ( ۵۲۶۰۲- ۱۰۰۰- ۱۳۹۸ ) مسکونه اصلی ولایت پروان گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۲۱۷

***

**اطلاعیه مفقودی مهر دواخانه**

محترم احمد جاوید فرزند خاک راه ولدیت محمد شریف دارنده تذکره نمبر ( ۲۰۲۱۵۸۸ ) مسکونه اصلی ولایت بدخشان مالک امتیاز دواخانه توحید واقع ناحیه دوم ولایت تخار عنوانی این اداره عارض و از مفقودی مهر دواخانه خویش خبر داده است

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد آگاهی حاصل نموده و از تاریخ نشر اعلان مطابق قانون و مقرره مهر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد.۲۴۰

***

**اطلاعیه فروش موتر**

اسامی محترم عابد جمیل لمتید یک عراده موتر پلیت ۶۳۱۶۲- ۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای مصطفی فرزند مسافر بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۸۹

***

**اطلاعیه فروش موتر**

اسامی محترم شرکت غلام سرور لمتید یک عراده موتر پلیت ۴۲۷۳۲-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد امین فرزند فضل احمد بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۹۵

***

**اطلاعیه فروش موتر**

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۳۶۴۶۷-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای حکمت الله فرزند پختور بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۹۷

***

**اطلاعیه فروش موتر**

اسامی محترم شاه علم خان فرزند پادشاه میر خان یک عراده موتر پلیت ۳۷۵۷۵- ۵ ش کابل نوع تیوتا لندکروزر زرهی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای نسیم فرزند محمد عزیز بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۲۰۲

***

**اطلاعیه فروش موتر**

اسامی محترم شاکر فرید لمتید یک عراده موتر پلیت ۲۲۱۴۳- ۳ ش کابل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای سید علی راشد فرزند سید میر محسن محمد بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۲۲۳

***

**اطلاعیه مفقودی**

جواز شماره ۳۸۹۸ دفتر رهنمای معاملات پسران حاجی صاحب مربوط محترم شفیق الله فرزند حاجی محمد امان صادره ۱۴۰۰ مفقود گردیده و فاقد اعتبار می باشد.۲۱۰

***

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت تجارتی به اسم وحید الله فرزند عبدالصدیق مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۱۹۲

***

**اطلاعیه مفقودی**

ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی دارای نمبر ۷۸۳۰۵ به اسم محمد عمر اسحق زاده فرزند محمد اسحق و محترمه وحیده بنت عبدالصبور مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۲۱۴

***

**اطـــــلاعیه**

ریاست شرکت امارتی سپین زر کندز در نظر دارد که روغنیات مورد ضرورت سال ۱۴۰۳ خویش را به اعلان دواطلبی سپرده قرارداد نماید.

بناء از شرکت های راجستر شده دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی اشتراک و نقل چاپ شده شرطنامه تدارکات این ریاست به دست آورده آفرهای خویش را با در نظرداشت شرایط مندرج شرطنامه به طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان مدت ۲۱ یوم که آخرین میعاد تسلیمی آفرها می باشد ارایه نمایند. ۵۵

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Wednesday 03 April 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 421

**بهرنیو چارو وزارت:**

# صهیونیست رژیم پرله پسې جنایتونه د سیمې او نړۍ امنیت ګواښي




د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت په سوریه کې د ایران اسلامي جمهوریت پر کونسلګرۍ د اسراییلو برید په کلکو ټکو غندلی او دا یې ډیپلوماټیکو نورمونو نقض بللی دی.
د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې ورته کړنې د سیمې د امنیت په پار پارونکې بللي او په کلکو ټکو یې غندلې. .
اسلامي امارت د نړۍ او سیمې له اغېزمنو هېوادونو غوښتي چې په غزه کې او له غزې ترانګې هاخوا د اسراییلي رژیم د جنایتونو مخنیوی وکړي.
اعلامیه زیاتوي چې ددغه رژیم پرله پسې جنایتونو د سیمې او نړۍ امنیت ته ګواښ پېښوي او د نړیوالو قانونو او سازمونو د اغېزمنتوب په تړاو یې جدي پوښتنې راولاړې کړې دي.
د یادونې وړ ده چې تېره دوشنبه شپه اسراییلي الوتکو د سوریې په پلازمېنې دمشق کې د تهران پر کونسلګرۍ هوايي برید وکړ او اووه تنه یې ووژل. تر دې وړاندې ویل کېدل چې په دغه برید کې پنځو تنو خپل ژوند بايللی دی، خو دمشق کې د ایران سفیر د اوو تنو د مړینې پخلی کړی.
داسې ویل کیږي چې په دې برید کې د سپاه پاسدارن د یو قوماندان او د قاسم سلیماني د نږدې ملګري محمد رضا زاهدي په ګډون د سپاه پاسدران ۵ نور مهم غړي وژل شوي دي.
ایران اسرائیلو ته پرېکنده ځواب ورکړی او د غچ اخیستنې ګواښ یې کړی.
دغه برید د اسلامي امارت ورهاخوا، قطر او نورو هېوادونو هم غندلی دی. تهران ددې برید په ځواب کې سویس کې د امریکا د سفارت یو استازی هم احضار کړی دی.

## رویدادهای خارجی

**عبداللهیان:**


### احضار مقام سفارت امریکا در سویس در پی حمله رژیم صهیونیستی در سوریه



حسین امیر عبداللهیان، وزیر امور خارجه ایران می‌گوید، در حمله رژیم صهیونیستی اسراییل به ساختمان کنسولگری ایران در پایتخت سوریه، شماری از مستشاران نظامی این کشور کشته شده‌اند.
این حمله به ساختمان کنسولگری ایران در دمشق، صورت گرفته است.
آقای عبداللهیان افزوده که تهران در واکنش به این حمله مقام سفارت امریکا در سویس را احضار کرده است.
وزیر امور خارجه ایران تصریح کرده که این مقام امریکایی به‌عنوان محافظ منافع امریکا در سفارت یادشده، مسوولیت دارد.
عبداللهیان گفته است: در این احضار ابعاد حمله تروریستی و جنایت رژیم اسراییل تبیین و مسئولیت دولت امریکا مورد تاکید قرار گرفت.
این مقام دیپلماتیک ایران در مورد تعداد مستشاران کشته شده ایرانی در حمله رژیم اسراییل به کنسولگری ایران در دمشق، اشاره‌ای نکرده است. این بار نخست نیست که نهادهای دیپلماتیک ایران از سوی رژیم اسراییل در سوریه آماج قرار می‌گیرد.

### اسراییلو الجزیره شبکه وتړله

د الجزیرې د راپور له مخې د اسراییلو پارلمان د رایو په اکثریت سره ټولې بهرنۍ رسنۍ تړلي دي. یاد پارلمان هغه قانون تصویب کړ چې له مخې یې د ټولو ګواښمنو بهرنیو رسنیو فعالیت درولي.
ددغه قانون تر تصویب وروسته نتانیاهو وویل چې د الجزیرې رسنیز فعالیت به په مطلقه توګه وتړي.
د اسراییلو لومړي وزیر وړمه ورځ وویل چې د الجزیرې فعالیت به د روانې جګړې ترپایه په هغه هیواد کې وځنډوي.
رویټرز ته په رسیدلي سند کې ویل شوي چې د اسراییلو پارلمان به په ټول هېواد کې هغه تلویزیوني شبکې وتړي چې د دغه هېواد داخلي امنیت ته ګواښ پېښوي.
د ویلو ده چې صهیونیستانو په قصدي ډول په هوايي او ځمکنیو بریدونو کې لسګونه خبریالان وژلي او د ډېرو رسنیو فعالیتونه یې له ځنډ سره مخ کړي دي.




### کشته شدن هفت امدادرسان در پی حملات رژیم صهیونیستی

یک نهاد امدادرسان امریکایی تایید کرد که هفت کارمند این نهاد در حمله روز دوشنبه ارتش صهیونستی به غزه کشته شده‌اند.
این نهاد اعلام کرد که امدادگران کشته شده فلسطینی، استرالیایی، پولندی، بریتانیایی و یک شهروند امریکایی-کانادایی بوده‌اند.
این نهاد امدادرسان امریکایی در بیانیه‌ای از اسرائیل خواست تا (کشتار بی‌رویه) را در غزه متوقف کند.
این نهاد امدادرسان می‌گوید باوجود هماهنگی با اسرائیل، کاروان امدادگران پس از تخلیه ۱۰۰ تن کمک‌های غذایی بشردوستانه مورد حمله هوایی قرار گرفتند.
ارین گور، رئیس نهاد امدادرسان «آشپزخانه مرکزی جهانی» این حمله را حمله به سازمان‌های بشردوستانه خواند که در وخیم‌ترین شرایط کار می‌کنند.
او گفت که صهیونستها از غذا به عنوان یک سلاح جنگی استفاده می‌کند.



## تاکید سرپرست بانک مرکزی به فراهم شدن سهولت‌های بیشتر برای مردم

ملا هدایت‌الله بدری، سرپرست بانک مرکزی در دیدار با مسوولان بانک‌های تجارتی کشور، بر فراهم شدن سهولت‌های بیشتر برای مردم از سوی این بانک‌ها، تاکید کرده است.
بانک مرکزی با نشر خبرنامه‌ای دیروز از دیدار آقای بدری با مسوولان بانک‌های تجارتی کشور، خبر داده است.
در این دیدار، در مورد قروض صعب‌الحصول، بانک‌داری اسلامی، تشکیل محکمه ویژه برای حل مشکلات بانکی، انتقال پول TT، سهولت در پرداخت قروض و برخی مسایل دیگر، گفت‌وگو شده است. سرپرست بانک مرکزی از همکاری‌های همه جانبه با بانک‌های تجارت اطمینان داده و بر فراهم شدن سهولت‌های بیشتر برای مردم از سوی بانک‌ها، تاکید کرده است.
بانک مرکزی در بیشتر از دونیم سال حاکمیت امارت اسلامی با روی دست گرفتن سیاست‌های موثر پولی ثبات ارزش افغانی را در بازار حفظ کرده است.
این در حالی است که در مدت یادشده، کشورهای غربی، سکتور بانکی و مالی کشور را تحریم کرده و محدودیت‌های را در این بخش‌ها، اعمال کرده‌اند.

## اخراج اجباری مهاجران افغان از کشورهای همسایه خلاف قوانین بین‌المللی است



اندریکا رتواتی، معاون نماینده ویژه سازمان ملل متحد در افغانستان در دیدار با مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری رییس‌الوزرا، گفته که کمک‌های بشردوستانه جامعه جهانی به افغانستان ادامه می‌یابد.
ارگ در خبرنامه‌ای از دیدار آقای رتواتی با آقای حنفی، خبر داده است.
در این دیدار معاون یوناما از تلاش‌ها و همکاری‌های امارت اسلامی در راستای توزیع کمک‌های بشردوستانه، برای شهروندان افغانستان به‌ویژه با زلزله‌زدگان هرات و مهاجران برگشته، امنیت سراسری، مبارز با مواد مخدر و فساد اداری، استقبال کرده است.
اندریکا رتواتی،...

۳مخ

## اندونیزیا افغانستان ته لس میلیونه ډوزه پولیو واکسین ورکړل

د عامې روغتیا وزارت وايي چې اندونیزیا له افغانستان سره د پولیو یا ماشومانو د ګوزڼ د لس مېلیون ډوزه واکسین مرسته کړې ده. د افغانستان لپاره د اندونیزیا سفیر بودي رحمت سوریا اسپترا په پروګرام کې چې په عامې روغتیا وزارت کې جوړ شوی و، دغه راز د هېواد په بېلابېلو برخو کې له خپل ملاترې ډاډ ورکوي.
د عامې روغتیا وزارت هم له افغانستان سره د یاد هیواد مرستې ستایي. بل پلو، د عامې روغتیا وزارت سرپرست قلندر عباد وايي چې دغه وزارت نه یوازې د پولیو ضد واکسین په برخه کې بلکې د لومړنیو روغتیایي خدمتونو د ملاتړ په برخه کې هم د نړۍ‌والو بنسټونو همکارۍ ته اړتیا لري.
دا په داسې حال کې ده چې موده وړاندې یوې هندي رسنۍ راپور ورکړی و، چې افغانستان او پاکستان دوه هغه هېوادونه دي چې لا هم پکې د پولیو ویروس ژوندی دی.



## آغاز کار یک بند آبگردان در ولایت پکتیکا



کار ساخت یک بند آبگردان درپکتیکا دیروزآغازشد. این بند آب گردان قرار است به هزینه ی دوملیون وهشت صد هزار افغانی ازسوی وزارت انرژی وآب درولسوالی گومل ساخته شود.
معاون ولسوالی گومل پکتیکا به آژانس باخترگفت که این بند بیش ازسی وپنج متر ارتفاع و پنج متر عرض دارد و می تواند بیش ازدوهزار متر مکعب آب را درخود ذخیره کند.
این بند، به هدف ذخیره ی آب های باران وسیلاب واستفاده ازآن درکشت وکار ونیز جلوگیری ازآسیب های احتمالی سیلاب ها برخانه ها و کشتزارهای مردم، ساخته می شود.
قرار است تا دوماه دیگر، این بند آبگردان به بهره گیری سپرده شود.

## جوزجان کې د څه باندې ۸ کیلومتره سړک د رغولو چارې بشپړې شوې

د جوزجان په مردیان ولسوالۍ کې پر ۸.۱۵ کیلو متره سړک د کرېږ اچولو چارې بشپړې شوې دي.



د جوزجان د کډوالو چارو رییس مولوي امان الله طلحه د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته ویلي چې د دغه ولایت په مردیان ولسوالۍ کې د (یو.ان.اچ.سي.آر) موسسې په مالي ملاتړ د ۲۰.۳ میلیونه افغانیو په لګښت پر ۸.۱۵ کیلو متره سړک د کرېږ اچولو چارې بشپړې شوې دي.
د یادونې وړ ده، چې د دغه سړک په رغولو سره په یاده برخه کې د ۲۴۰۰ کورنیو ستونزې حل شوې دي.

## یک بند ذخیره آب در مامکی میدان وردگ ساخته می‌شود



معین وزارت انرژی و آب در دیدار با بزرگان قومی ولسوالی جلریز ولایت میدان وردک گفت که وزارت در نظر دارد یک بند متوسط ذخیره آب را در دره تیشه مامکی میدان وردک بسازد و این پروژه در برنامه انکشافی آن وزارت گنجانیده شده است.
دفتر مطبوعاتی وزارت انرژی و آب دیروز با نشر این خبر گفته است: مجیب الرحمن عمر آخندزاده، معین آب وزارت آب و انرژی همچنان گفت: وزارت انرژی و آب برای مدیریت آب های کشور تدابیر و برنامه های بیشتر دارد که با عملی شدن آنها سهولت های زیادی در کشت وزراعت به وجود خواهد آمد و ذخایر آبی تقویت خواهند شد.
بزرگان جلریز از برنامه های وزارت انرژی و آب اظهار حمایت کردند.

**توجه !**

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!